امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۵ الی ۱۰ عقرب ۱۴۰۳

شماره هشتادم

## له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې په کابل ولایت کی د ۵۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره دخوراکی او غیر خوراکی توکو مرسته وکړه



له پیښو سره دمبارزې امادګۍ سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۴ نیټه د یوې غونډې په ترڅ کی چې داضطرار ریس محترم قاری خوشحال د کابل ولایت له پیښو سره دمبارزې امادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب انوری او د ښه ګاونډیانو نړیوالی مؤسیسې رئیس نقیب الله هم ګډون درلود ۵۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی توکی وویشل.
دیادی ادارې سرپرست ترابی صاحب وویل چې زموږ په هیواد کی زیات خلګ طبعی داو غیر طبعی پیښو ځپلی دی چې یوه برخه یې هم سیلاب ځپلی کورنۍ دی چې په تیرو ورځو کی مو د کابل ولایت د ۹ ناحیې او بیلابیلو ساحو...

ادامه در صفحه۲

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د تخنیکی او پراختیایی مؤسیسې ACTED ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پیښو سره د مبارزې ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی او د تخنیکی او پراختیایی مؤسیسې مرسیتاله الکسندرا یولیس، اداری مسؤل مسعود نورزاد او د بهرنیو اړیکو مسؤل اجمل کامران سره...

ادامه در صفحه۲

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینی مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې امادګۍ سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د اسلامی هوساینی مؤسیسې سرپرست احمدشا وفا؛ د پروګرامونو مسؤل رحمت الله خوګیانی او مل پلاوی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۴ نیټه سره وکتل...

ادامه در صفحه۳

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ټولنی پراختیا ځیرنیزې مؤسیسې سره د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی او د پراختیا او ځیړنیزې مؤسیسې (CDRO) د رئیس سراج الدین شیر زاد او معاون محمد نعیم اخند زاده سره...

ادامه در صفحه ۴

## له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې په کابل ولایت کی د ۵۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره دخوراکی او غیر خوراکی توکو مرسته وکړه



له پیښو سره دمبارزې امادګۍ سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۴ نیټه د یوې غونډې په ترځ کی چی داضطرار ریس محترم قاری خوشحال د کابل ولایت له پیښو سره دمبارزې امادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب انوری او د ښه ګاونډیانو نړیوالی مؤسیسې رئیس نقیب الله هم ګډون درلود ۵۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی توکی وویشل.
دیادی ادارې سرپرست ترابی صاحب وویل چی زموږ په هیواد کی زیات خلک طبعی داو غیر طبعی پیښو ځپلی دی چی یوه برخه یی هم سیلاب ځپلی کورنۍ دی چی په تیرو ورځو کی مو د کابل ولایت د ۹ ناحیې او بیلابیلو ساحو د سیلاب ځپلو کورنیو څخه سروې کړی ده چی نن مرسته ورسره کوو.
همدارنګه ترابی صاحب وویل چی نن ورځ هری کورنۍ ته یو راشن مواد چی یو پارسل ۲۵ کیلو ورجی یو پارسل ۵۰ کیلو اوړه او د ښه ګاونډیتوب نړیوالی مؤسیسې لخوا یو کیټ چی ۱۶ قلمه دکوجینانو داغوستو ژمنی توکی شامل دی مرسته وشول.
سیلاب ځپلو کورنیو له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې څخه ځانګړی مننه وکړه چی تل یی پر وخت مرسته ورسره کړی ده او همیش یی د زیانمنو کورنیو سره دخوراکی او غیر خوراکی توکو مرسته کړی ده.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د تخنیکی او پراختیایی مؤسیسې ACTED ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پیښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی او د تخنیکی او پراختیایی مؤسیسې مرسیتاله الکسندرا یولیس، اداری مسؤل مسعود نورزاد او د بهرنیو اړیکو مسؤل اجمل کامران سره د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۴ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.
ترابی صاحب دتخنیکی او پراختیایی مؤسیسې مرسیتالی او مل پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو چی نن یو داسی تفاهم نامه لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ اولس ته نغدی او غیر خوراکی مرستی رسول کیږی او د یادی مؤسیسې د ټول کاری ټیم څخه یی ځانګړی مننه وکړه او وویل چی تاسو یادی مرستی باید جاری وساتی ترڅو اولس مو د خدماتو څخه برخمن سی او زیاته یې کړل چی ټول مؤسیساتو او سازمانونه باید افغان اولس ته اساسی کار وکړی ترڅو اولس ورسره هوسا او ګټه ځینی واخلی.
د ACTED مؤسیسې مرسیتالی الکسندر یولیس له پیښو سره د مبارزې

آمادګۍ ملی ادارې د ټولو کارکونکو څخه مننه وکړل چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی او ترڅنګ ئی وویل چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره باید بیلابیل مؤسیسات او نړیوال سازمانونه بیلابیلی مرستی وکړی.
د یادونی وړ ده چې دا پروژه په شمال، لویدیځ او ختیځ ولایتونو کی د (۲۱۳۲۵۰۹) دوه میلونه یو لک دو دیش زره پنځه سوه نهه امریکایی ډالرو په ارزښت د ۴۸۲۰ کورنیو سره په لاندی ډول مرستی کوی، د ۱۲۸۰ کورنیو سره پر کور باندی ۳۳۱ ډالره، د ۱۹۴۰ کورنیو سره پرکور باندی ۳۴۵ ډالره او ۱۶۰۰ کورنیو ته غیر خوراکی مواد ویشی.
په ورستیو کی داوړی تفاهم نامی لاسلیک سوی او پر ګډو همکاریو د داوم غوښتنه وسوه.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینی مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې امادګۍ سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د اسلامی هوساینی مؤسیسې سرپرست احمدشا وفا؛ د پروګرامونو مسؤل رحمت الله خوګیانی او مل پلاوی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۴ نیټه سره وکتل.
ترابی صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چې باید خپل مرستی د افغان اولس سره جاری وساتی او همیشه دطعبی او غیر طبعی پیښو ځپلو کورنیو سره دوامداره همکاری وکړی او هغه مواد پر خلګو دمرستی په توګه وویشی چې خلګ ورته اړتیا لری.
همدارنګه ترابی صاحب وویل چې په هر ولایت کی مؤسیسات توزیع او یاهم سروې کوی موږ ورسره ددولت په اصولو اوچوکاټ کی پوره همکاره یو او دیادې ادارې ریاستونه په هر ولایت کی شتون لری.
د اسلامی هوساینی مؤسیسې سرپرست احمدشا وفا وویل چې یاده مؤسیسه په بیلابیلو برخو کی د خلګو سره مرستی کوی چې یو برخه یی دطبعی او غیر طبعی پیښو زیانمنو کورنیو سره نغدی، خوراکی او غیر خوراکی توکو مرسته کوی او تل یی دسیلاب ځپلو؛ مهارجرینو او پیښو ځپلو سره همکاری کړی ده.
دیادونی وړ ده چې ۴۳۶۳۹۲ څلور لکه شپږ دیرش زره دری سوه دوه نیوی ډالره به د غور ولایت په مرکز فیروز کو او الله یار ولسوالۍ کی د ۹۵۳ زیانمنو شو کورنیو سره د ژمی لپاره نغدی مرسته وشی چې هری کورنۍ ته به ۳۵۷ ډالره چې معادل یې ۲۴۳۰۰ افغانۍ کیږی وویشل شی.
په ورستیو کی ترابی صاحب د غور ولایت هغه ۳۰۰ کورنۍ چې په غور ولایت کی د سیلابونو له امله بې ځایه شوی وې مؤسیسې ته یادونه وکړل چې باید ددغه کورنیو سره ژر تر ژره مرسته وسی.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ټولنې پراختیا څېړنیزې مؤسیسې سره د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی او د پراختیا او څېړنیزې مؤسیسې (CDRO) د رئیس سراج الدین شیر زاد او معاون محمد نعیم اخند زاده سره د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۶ نیټه په خپل کاري دفتر کی وکتل.
ترابی صاحب له هرڅه مخکی د یادی مؤسیسې پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یی کړه چی تر بل هر وخت اوس ډیر ضرورت دی چی مؤسیسات خپلی مرستی پر اړمنو خلکو وویشی او د ژمی په رارسیدو سره اړمنی کورنۍ د مرستو څخه برخمنی سی.
همدارنګه ترابی صاحب د CDRO مؤسیسې څخه مننه وکړل چی د ژمی په رارسیدو سره خپلی مرستی ویشی او د مرستو پر ژر رسیدنه یی ټینګار وکړ.
د CDRO مؤسیسې رئیس سراج الدین شیرزاد د یادی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړل او زیاته یی کړل چی موږ هڅه کوو چی په ژمی کی خپلی مرسته تر خلګو ورسوو.
ښاغلی شیرزاد وویل چی موږ په پلان کی لرو چی خوست، غزنی او نورستان ولایتونو کی مرستی پر خلګو وویشو چی اوس فعلاً یوازی په نورستان ولایت کی د مرستو بهیر پیلوو.
د یادونی وړ ده چی د نورستان ولایت په وامه، برګ متال، کامدیش، وانټ وایګل، کنتوه، نورګرام، وادب او ماندول ولسوالیو کی تر سروې ورسته ۱۵۱۷۸ مستحقو کورنیو ته د ژمنی توکو د برابرولو لپاره هری کورنۍ ته ۲۰۷ ډالره د CDRO موسسې لخوا د یونسیف د دفتر په مالی ملاتړ ورکول کیږی.

## ۲۱،۵۷۸،۴۰۰ افغانۍ نغدی پیسې زیانمنو کورنیو ته په فاریاب ولایت کې ووېشل شوې



د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۹۷۲ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله په یاد ولایت کې زیانمنې شوي وې، نغدی مرستې ووېشلې.
د یادونې ده چې، ۲۱،۵۷۸،۴۰۰ افغانۍ نغدی پیسې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ ۹۷۲ زیانمنو کورنیو ته ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې، په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۲،۲۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## د هستوګنې لپاره د آقاخان دفتر سره د ګډې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو




له پېښو سرې د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملانورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د هستوګنې لپاره د آقاخان دفتر د حقوقی او اړیکو مسئول، محترم عصمت‌الله عصمتی سره د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۶ نیټه وکتل او خبرې یې وکړې.
په سر کې، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د پېښو د مدیریت په برخه کې د دغه دفتر د فعالیتونو او کړنو په ستاینې سره وویل: "افغانستان د جغرافیایی موقعیت له کبله د طبیعی پېښو له امله زیانمنېدونکې هیواد دی او د پېښو د مدیریت په برخه کې یې د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه وکړه.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست زیاته کړه: "مرستندویه موسسې چې په هر ولایت کې سروی او یا مرستې ویشی، موږ د ا.ا.ا د اصولو او چوکاټ له مخې له د دوی سره همکاری کوو، او زموږ ریاستونه په هر ولایت کې شتون لری چې له مرستندویه موسسو سره همکاری کوی.
وروسته محترم عصمت‌الله عصمتی، د هستوګنې لپاره د آقاخان دفتر د حقوقی او اړیکو مسئول، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له رهبرۍ څخه د همکارۍ په برخه کې مننه وکړه او ویې ویل: "دا سازمان په مختلفو برخو کې خلکو ته مرسته رسوی." هغه زیاته کړه چې دا مهال د خوراکی توکو د مرستې پروژه د ۵۶۵,۸۵۱ امریکایی ډالرو په ارزښت، چې بودیجه یې د نړیوال خوراکی پروګرام (WFP) له خوا تمویل شوې، د هستوګنې لپاره د آقاخان دفتر له لارې د بدخشان ولایت په ۱۱ ولسوالیو لکه ارغنج خواه، اشکاشم، خواهان، درواز بالا، درواز پایین، زیباک، شکی، شغنان، واخان، وردوج او کوف‌آب کې پلی کېږی.
نوموړی زیاته کړه چې په دې مرستو کې ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵ لیتره غوړی، ۶.۲۵ کیلو دال نخود، نیم کیلو مالګه او د ماشومانو او شیدې ورکوونکو میندو لپاره مغذی مواد شامل دی.
همدارنګه یادونه یې وکړه چې راتلونکې اوونۍ به د دې ادارې کارمندانو لپاره د زلزلې د خطراتو په اړه د پوهاوی ورکشاپ ترسره کړی.
په پای کې، د ۵۶۵,۸۵۱ امریکایی ډالرو په ارزښت د خوراکی توکو د مرستې هوکړه لیک، چې په بدخشان کې ۱۸,۸۹۸ کټې اخیستونکو ته په ۱۱ ولسوالیو کې ویشل کېږی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د هستوګنې لپاره د آقاخان دفتر ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شو.

## ۳،۶۲۶،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې زیانمنو کورنیو ته په کندز ولایت کې وویشل شوې




د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۱۴۰۰ کورنیو ته چې د یاد ولایت علی آباد، چهادره، امام صاحب او قلعه زال ولسوالیو کې د وروستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوی وې، نغدی مرستې وویشلې.
د یادونې ده چې، ۳،۶۲۶،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې د (OHW) موسسې لخوا د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ ۱۴۰۰ زیانمنو کورنیو ته وویشل شوې.
د یادونې ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۵۹۰ افغانۍ وویشل شوې.

# په کابل کې د مرستو د رسونې دوام؛ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست ۵۵۰ کورنیو ته د مرستو د وېش لړۍ پیل کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۶ نیټه د مولوی نجیب الله انوری، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې رییس په شتون کې، د کابل ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د بارانونو، ږلۍ او سېلابونو له امله زیانمنو او اړمنو ۵۵۰ کورنیو ته د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.

محترم ترابی صاحب، د دغو مرستو د پرانیستې په غونډه کې زیانمنو سره د خواخوږۍ په څرګندولو سره ووېل چې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لخوا، له سروې وروسته، نن ورځ ۵۵۰ زیانمنو او سېلاب ځپلو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشل شوې چې پکښې ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۲۰ کلچې صابون او همدارنګه د یونیسیف موسسې لخوا ۱۴ قلمه توکی درلودونکې یو روغتیایی کېټ شامل دي.

د ادارې سرپرست د دې ترڅنګ چې له ټولو ملی او نړیوالو سازمانونو د بشری مرستو زیاتولو په غوښتنې سره ووېل چې، د دې اوونۍ په پیل کې هم ۵۰۰ کورنیو ته مرستې ووېشل شوې دي او دا لړۍ هره ورځ په ټولو ولایتونو کې دوام لری.

همدارنګه، د مرستو ترلاسه کونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې څخه مننه او خوښۍ څرګنده کړه او له خدای ج یې د اسلامی امارت د دوام او بقا لپاره دعا وکړه.

## په زابل ولایت کې د ۲۴ شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د محترم مقام په لارښوونه، د ۲۴ شهیدانو ورثه ته چې د کورنۍ غړي یې په بېلابېلو ولسوالیو کې د سېلابونو او طوفانونو له امله له لاسه ورکړي و، د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست لخوا نغدي مرستې ووېشل شوې.

په دې لړۍکې چې د یاد ولایت یو شمېر مسؤلینو هم شتون درلود د یاد ریاست مشر محترم مولوي عبدالله عابدي لخوا د هر شهید کورنۍ ته ۴۰,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

همدارنګه مولوي عبدالله عابدي ووېل چې، دا مرستې بسنه نکوي او په راتلونکې کې به هم خپلو مرستو او همکاریو ته دوام ورکوو.

د مرستو ترلاسه کونکو له مسؤلینو د مرستو په پار مننه او قدرداني څرګنده کړه.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان IOM د پلاوی سره وکتل




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د مهاجرت نړیوال سازمان دبیړنیو مرستو دپروګرام مسؤله اغلی غدا برکت او د اړیکو مسؤل محمد سلیم خالد سره د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۲۵ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.
ترابي صاحب د IOM نړیوال سازمان راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو چی مؤسیسات د اولس لپاره د بهر هیوادونو څخه راځی او پر مستحقو کسانو مرستی ویشی او ددې سازمان د ټول کاری ټیم څخه یی دهمیشنۍ همکارۍ مننه وکړه چی په سختو شرایطو کی زموږ دزوریدلی اولس سره همکاری کړی ده.
او زیاته یې کړل چی د بغلان په ولایت خلګ سیلابونو زیات زیانمن کړی دی او باید زیاته توجوع ورته وسی.
دمهاجرت نړیوال سازمان دپروګرامونو مسؤلی اغلی غدا برکت دیادی اداری دسرپرست څخه مننه وکړه او وویل چی ددې ادارۍ له لوری به تل موږ د زیانمن سوو افغان اولس سره مرسته وکړو.
همدارنګه اغلی برکت وویل چی موږ په تیرو میاشتو کی سروې کړی ده چی ورسته مو دغه زیانمنی کورنۍ انتخاب کړلی چی له دې ورسته به بیاهم تخنیکی سروې وکړو.
دیادونی وړ ده چی دیوه مکتوب په اساس چی چی له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ادارې لخوا ورکول کیږی د بغلان ولایت په جدید بغلان، برکه او دوشی ولسوالیو کی د سیلاب ځپلو کورنیو لپاره د کورنو د ترمیم او دکورنو دجوړیدو لپاره نغدی مرسته کوی چی ټوټل ۵۰۰ کورونه دی چی ۱۰۰ نوی کورونه په برکه ولسوالی کی جوړوی

## په کونړ ولایت کې د ۶ شهیدانو کورنیو ته نغدی مرستې وویشل شوې



د کونړ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د طبیعي پیښو له امله د ۶ شهیدانو کورنیو ته چې د کورنۍ غړي یې د طبیعي پیښو له امله شهیدان شوي و، د یاد ریاست مشر الحاج قاری ثابت الله صدیقی، د ولایت مقام او سرې میاشتې استازو په شتون کې نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د هر شهید کورنۍ ته ۴۰،۰۰۰ زره افغانۍ وویشل شوې، او همدارنګه د مرسته ترلاسه کونکو له یاد ریاست څخه مننه او قدردانی وکړه او د لا زیاتو مرستو غوښتنه یې وکړه

## په هرات ولایت کې د وچکالي له امله ۹۵۰ زیانمنو کروندګرو ته کیمیاوي کوډ ووېشل شو



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت زیرکوه ولسوالۍ اړوند ۹۵۰ کروندګرو ته چې د وچکالۍ له امله زیانمن شوي و، له سروې وروسته کیمیاوي کوډ ووېشل شو.

په دې لړۍ کې هر کروندګر ته ۱۰۰ کیلو کیمیاوي کوډ ووېشل شو.

## ۴۱ سېلاب ځپلو کورنیو سره په بغلان ولایت کې خوراکي مرستې ترسره شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د IHH موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ، ۴۱ کورنیو ته چې د یاد ولایت په برکه ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ د یاد ریاست او موسسې ګډ پلاوي په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو وریجې، ۱۰ لیتره غوړي، ۷ کیلو لوبیا، ۱ کیلو بوره او ۱ کیلو شین چای ترلاسه کړل.




## برای ۳ خانواده آسیب‌دیده ناشی از حوادث ترافیکی در سمنگان کمک غذایی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۳ خانواده که اعضای فامیل‌شان در حادثه ترافیکی متضرر شده بودند، بعد از سروی برای‌شان کمک غذایی توزیع نمود. گفتنی است که در این پروسه برای هر خانواده ۵۰ کیلو برنج، ۵ لیتر روغن، یک بوری مکرونی و یک کارتن آش مگی توزیع گردید.

## برای ۲۴۶ خانواده در جوزجان مساعدت خوراکی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان بر اساس هدایت مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، برای ۲۴۶ خانواده متضرر از خشکسالی و نیازمندان، پس از سروی مساعدت خوراکی توزیع کرد.
این روند با حضور محترم مولوی سراجالدین سراجی رئیس آن ریاست و هیئت کمیسیون ولایتی آغاز و برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد و ۲۵ کیلو برنج توزیع شد.

## ۱۶۶ بېوزله کورنیو سره په ننګرهار ولایت کې نغدی مرستې ترسره شوې




د IRC موسسې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، ۱۶۶ بېوزله کورنیو ته د یاد ولایت په سره رود ولسوالۍ کې له سروې وروسته د خوراکی توکو پېرلو په موخه نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## په فاریاب ولایت کې د ۳۰ شهیدانو ورثه نغدی مرستې ترلاسه کړې



د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د محترم مقام په لارښوونه، ۳۰ کورنیو ته چې د بېلابېلو پېښو له امله یې د کورنۍ غړی له لاسه ورکړی و، نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته، د محترم مولوی اسدالله وقاص د یاد ریاست مشر او د ولایتی کمېسیون پلاوی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۴۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.